
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څه دلبرونه پاتې کیږي
څوند چې یو کړ دې یې د پښو نه پاتې کیږي

زړه مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

پیغې مې د زړه د لمن ورځ بدې لاړې
غم دې په کبې د بهرشو د نیرو نه پاتې کیږي

نه بلېدو څه سې اور د مغ دې. دا مې زړه وه
څونه چې به سکون د سرو لبو نه پاتې کیږي

تا چې په کړو وړو د عشق بې تلم زړه کیه
څکه سې لاړې د پرندو نه پاتې کیږي



وي به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګي چې د ډیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سړي
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږي

باده د بېلتون چې مې په لوړي بیا را نه شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاوري یې خاطره چې د پښو نه پاتې کیږي[۱]

بیا را غلله شپه او څلند ستوري یار را نغي
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کیږي

---

[۱] د دیوان کتنو مصرع داسې ده: خاوري دي د چا خاطره چې د پښو نه پاتې کیږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ستړګې دې کړه برنده چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي
خو به کړې وعدې راته د شفې او د سبا
وېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
زۀ درته لۀ هاره پۀ محفل کښې ګټلې نۀ شم
ستړګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي
عقله چې یې ووینه زلفې تار په تار
بس خو یو ګرېوان ته مې لاسونه وارخطا شي
دومره اے زړګیه ! ځان ته مۀ ښکلوه ښکلې
وبه چوې لۀ واره کۀ دردونه وارخطا شي
غلۀ سره د مینې په محفل کښې چې یو ځاې شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل یُې کړه د زړۀ مې کۀ پۀ خُلۀ نۀ بیانېږي
داسې ادا وکړه چې دادونه وارخطا شي
ځکه زۀ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

○

میاشتنۍ ژوندۍ پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ء

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

پۀ ارمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوب یې ورک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې پۀ کار نۀ وي
پۀ ارمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

پۀ توبه باندې وېر بد ښکاري چې زړه شي
ښکاري ښۀ چې پۀ ځوانۍ کښې توبه ګار شي

لېونۍ پۀ کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښیار ځنګدن پۀ یوګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لرې مېلمه دے
تا به وکړه مه وار وکړه کۀ دې وار شي

تۀ دې خپلې سترګې وګوره چې څۀ کا
د خاطر زړګي به څرنګه قرار شي

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ددې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هیڅ نه ده
لکه دریاب کښې چې باران ورک شي

هومره چې سود په لیونتوب نه کیږي
چې په مشکل کښې مې ګریوان ورک شي

څو به لټومه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي



چې یې روښ دې دلیو په پیمانو شي
سو دې کله بیا دلب په بهانو شي

څو چې خدای راکړې نه وي نو به ژاړم
د خپېر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لیونی غونډه تل په لیونو شي
نه د ستا لیونو سترګو نه ډار نه کړم
که خوږونه دې د سترګو لیونو شي[1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وړې
دغه شپه د سپېلنی د وږاند بنو شي[2]

چې د نړه کوب ته دې ناشي پروا مه کړه[3]
لے خاطره خاطر تل د میلمنو شي

---

[1] که دا دواړه شعرونه متن لرنه کښې نشته

[2] د دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې د نړه کوب لره ناغلې وي سپړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کونځې راتاو شي
زما د زړهٔ څنې بسې راتاو شي

پهٔ څېره پړه لوپټه کښې تاو شي
لکه وړانه بربوکه راتاو شي

نهٔ به بیا کړی لېونې د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسۍ راتاو شي

پهٔ زړه بوږې خوبه وانهٔ وهم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ څوانه راتاو شي

وړاندې به مې دا وې چې کاته به شي
اوس چې پهٔ ژوند پوه شوم وایم څهٔ به شي

وایم ستا بنو ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وی داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وم مهٔ لهٔ داسې جدائي خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

وې کړو تېرې چې را څه خلهٔ غواړې
ما وې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ یې پرېږدی دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړی خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ اوبهٔ به شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي
بلبل يې د چمن وي بوراګان خوشحاله شي

ښ خو مه راکوه مخ دې بل خوا واړوه
پر پرده چې نا پوهه رقيبان خوشحاله شي

شمع چې بلېږي د محفل د پاره خاندي
زړه کښې داسې وايي چې عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفاګانې، ستمونه کړه غمونه وک
زړګي د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شي

○



○

راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نه شي
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نه شي

ډېره شپو له راشه چې له يو بل نه خبر شو
ياره په يو شپه د ټولو شپو خبرې نه شي

وايمه له ځان سره چې دا به ورته وايمه
راچې شي آشنا په حوصلو خبرې نه شي

زړه او ته چې وو ينو له ورايه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړه خبرې نه شي

ياره ستا د هجر او بېدو شپو شو ګيره کړې يم
ګوره چې مې اوس په اسوېلو خبرې نه شي

خدای خبر خاطر زړه به يا چرته ته به يا چرته
پر پرده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نه شي

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي
رقیبه یار که مې په خُله پاتې شي

سترګې مې دور سحر وختې پاڅیږي
په شوګیرو منین وعده پاتې شي

یو ځلي نیغ په دې لار تېرشه آشنا
چې دې کابڼه وابڼه کاته پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څه ښکاریږه
دغه ارمان به مې په زړه پاتې شي

وستایه ورور د یار تر اخره خاطره
چې په کتاب کښې دې خوابده پاتې شي

○



○

زړه په دې نه دے چې ناوړے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ مې خوښ دے
والله یه ټولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې مې بهیږي په مخ
دا بې ګناه جانان رټلے مخ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کښې ستاساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سپنګار زما په سترګو کښې غمېزې
چې په کوم لوري نه ګورمه بهار دے

د منصور خو قسمت نوم دے په دنیا کښې
که یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے

خندوې، تغیروې چې مې ستا مینه
بس هم دغه مې خزان او هم بهار دے

دا رقیب دې څه په مخکښې مخکښې کېږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې یار له سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

---

میاشتنۍ غنچه، پېښور

---

اګست ۱۹۶۰ع



○

خوږ خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما خوږې اوږدې کړې کړې
بڼه دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے

مه کړه ضبطه مه چې راله او ښکې وچې نه کړې
ورېږي دې د چا په دې شپو کښې انتظار دے

تا چې د وفا پلو په ما باندې ونه نیوه
ما ته څه د هجر په غمو کښې انتظار دے

لاړې د اُمید د زړګي شنې پاڼې مې وچې شوې
بیا دړته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے

ما وې چې که نن نه وې سباله به دې خوږینه شي
ډېر مې درته کړے په اسرو کښې انتظار دے

کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلې وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه يې زۀ مرم پۀ دۀ اخته دے

د هجران د لاسه شپه و روځ ژړېږم
ځکه داسې چې پۀ اوښکو ګرېوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
یا خو دے ډېر پۀ لحاظ نبي زورور دے

اوس يې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې لېدلے يې د يار ښکلے بشر دے

تور باڼۀ د يار دغشي پۀ مثال دي
چې ويشتلے يې زما د زړګي سر دے

درېغه زۀ خاطر خو پوه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ څۀ باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان راته اشنا د ستا پۀ ځېر دے
دې وې وروستي به تۀ پوه شې څۀ وائې خبر دے

دې وې زړۀ کۀ خېرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر يو کلپ ورته کاوشېر دے

دې وې زۀ يمه هرسې پۀ مېړو روږده
ما وې زړۀ زما د لړو غرونو شېر دے

دې وې بيا تۀ مخ ښکاره کړه کۀ پښتون يې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت يم پۀ طمع
دې وې راشه دلته کېنه غم يې ډېر دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا مې دلبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان مې د لوګو د اسویلو نه ډک دے

خوبونه مې ستا پهٔ بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګني وطن خو مې یاره د ازغو نه ډک دے

د ستا نصیب شه خوشحالي د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے

نمر مخې مخ ته مې لهٔ و دا یه نا خبر کتلی
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے

را شه ګلونه ګواهان دي پهٔ صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنمو نه ډک دے

د احسرتونه د اغمونه تنګ ګوګل زړه کښې
لهٔ دې خو ګور ښهٔ دے هر څو که د تیارو نه ډک دے

زړهٔ مې یوه د لیونتوب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډیرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو مخکښې لا د ګیلو نه ډک دے

زما خاطر بې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړه
د مخ کتاب دې د الله را وبه د قیصو نه ډک دے



تک تور سورے د ستا سرے وربل دے
چې دې اور د ښکلي مخ ترې لاندې بل دے

چې څو څُم پهٔ مخکښې لا منزل زیاتیږي
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

زمي مې شک پهٔ کومه لار دے سوداڼۍ شوم
نور مې هیڅ مرندلے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسې اے خاطره
خیبر وګڼه حرم که څو شنډل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږمه ورېږي پۀ زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نۀ شي وائي کم دے

زۀ چې مست پرېشان او سرګردان یم
هر یو غم یې لکه زلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شپ و روژ ژړېږم
راشه یو وارې پۀ سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده که چا راوړه
پۀ کوم ځاې باندې یې ایښے چې قدم دے
ټول عالم یې وهرصفت د سخاوت کا
ګیله څۀ کړم چې د خپل نصیب مې کم دے
زۀ خوشحاله مست شومه پۀ خندل یې
خلقه ما او پۀ جانان کښې کوم یو کړم دے
چې دلبرې پۀ ژړا پورې نن خاندي
نو مچ شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو له مۀ دومره خاطره
د یار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا پۀ انتظار کښې ماته کال څۀ دے
دومره لا ماندۀ نۀ یم ستا خیال څۀ دے

سوزي هم هغه چې پرې بلیږي اور
خانده له اشنا تاته ډغال څۀ دے

تاکۀ پۀ شاله کښې پټه ولیدم
بیا به داسې وائې چې مشال څۀ دے

زۀ دې هر یو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا پۀ جبین خال څۀ دے

ما خو درته وېل وږمه مې مۀ کوه
وګوره خاطره اوس دې حال څۀ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نړه ئې ستا په نور دے په بل نور ئې پېژنو نه د
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور ئې پېژنو نه دے

اے مجبوره چې ئې ورانه نه کړې دا د نړۍ خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په کور ئې پېژنو نه دے

دا نه چې هر بنا پست باندې شپه دا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزی خو په اور ئې پېژنو نه دے

په غېر ستا د محفل څنې ئې نه شی څه ګـــذران
در درو ی به خاطر خو په پېغور ئې پېژنو نه دے

چې لېږ نظر ئې د بصر پاتې دے
جوړ ئې منزل ته دېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده څو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
نار دې د مینې د لمبو څخه زړه
لا ئې په مینه کښې څېګر پاتې دے
تېرې د شپې وکړه که وکړې یقین
ستا انتظار رانه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تنه نه شې
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن کښلو
خبر شه اوس رانه خبر پاتې دے
نه او انکار له تا په کومو سترګو
لا ئې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د ربار په خُله رخصت څکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګو زما چل د ژړا زده کړے

پۀ لندو پلونو به یې څنګه ځمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

تن دې ونۀ وې پۀ وعدۀ کښې راته
صرف وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مۀ کړه
اشنا خو یو چل د جفا زده کړے



د څان سېنګارولو کښې مسکې وې ما لیدې
زما د زړۀ پۀ سولو کښې مسکې وې ما لیدې

پرون چې څۀ پرواه ستا پۀ ګذاب نۀ وه صنم
زما پۀ زړۀ وېشتلو کښې مسکې وې ما لیدې

شاید چې وه د زیاده حیرانتیا مې هغه وخت
اشین ته پۀ کتلو کښې مسکې وې ما لیدې

خفه یمه پۀ دا کۀ بنۀ یې ستا لۀ سیې کړم
رقیب ته پۀ وېښلو کښې مسکې وې ما لیدې

لبان دې لکه پاڼې اشنګې وې سرۀ ګُلونه
سحر چې تۀ پۀ ګُلو کښې مسکې وې ما لیدی

خبرې پۀ غصه کښې کېږی هم د چا خاطره
اشنا چې پۀ کتلو کښې مسکې وې ما لیدې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا مي نن ليدهٔ تېرې وعدې را يادېدي
دا وصل کهٔ هجران دهٔ چې کېږي را يادېدي

بس دهٔ مې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نن خدا ورشه[1]
دا نهٔ چې ماته نورې مرحلې را يادېدي
منم چې فراقجن به نن سبا دا يادېدي[2]
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را يادېدي
کهٔ هرڅو شرې ، نن يادله چې هېرې دې نشم بنده[3]
پښو اې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را يادېدي
هم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو زهٔ
چې چېرته خو به خاورې بادېدې را يادېدي
زما د زړګي يادشي د مخکې نظر سره
پهٔ هېڅ نهٔ هېرېدلې هم داسې را يادېدي
دا نهٔ چې اُس چشمه اوس يې غټې ستا يمزهٔ
د ستا خمارې سترګې لا دېرې را يادېدي

بېګا چې شمع دويه هرڅهٔ هېر دهٔ د خاطر
د ستا د محفل بشکلې تماشې را يادېدي

[1] مصرع بې معنی ده

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



زما د اُميدونو ودې شپې وغزېدې
هرڅو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېدې

اوس چېرته ترېنه لاړ شم لېونے چې کړه يار
هرځاې کښې يې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخنيه اوس دې سپې لارې ماته کړه نګړې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې بوږي چې خاطر کړو يار ګلاد
پهٔ دې د رقيبانو جنازې وغزېدې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډې ښخ ونهٔ وې
بس کهٔ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زهٔ کهٔ قسمونه ورکړم
زړګیه ته ګله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه پهٔ دې چې پهٔ کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې پهٔ خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور پهٔ یو جونګړه کښې اوسېږمه
تهٔ خو راته وایه پهٔ محل کښې څنګه ښکارې

څومره به پهٔ باغ کښې ته پهٔ غوټو وې خپل ځان ته
ګله د آشنا پهٔ سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې یې پهٔ ما کښې دي چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې پهٔ محفل کښې څنګه ښکارې

تا به پهٔ آئین کښې ځان لیدلے پهٔ یو رنګ وی
راشه د خاطر پهٔ هر غزل کښې څنګه ښکارې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا پڼې د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لسې برېښې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګسه! پس له دې به یې د ستا په سترګو کوم
نظرې وه اشنا، چې لاړې، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګرځه پار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې که ونګورې نو اوس بیا مخ پټوې
نو کوزې مې ګرېوان ته له حیا نه سترګې لاړې
بورېل ته په کاته شو او په نهو نو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هرچا نه سترګې لاړې
لږ راشه شمع رویه! لږې وګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څه شو که مې د خاطر سترګې په تا نه شې
چې د برې داسې وړېښې له دنیا نه سترګې لاړې

پاښتو، قند، مردان

(مړل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ء

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بیا به څه کړې

در ته کښته نه شم حیران یم د اشنا سېنګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به بشرې او دا د ښته تل ته ماته کړې
چې یې پرزو نه وی دعا مخه اشنا به څه کړې

چې څه یې وکړل مخه یې تول وکړل په تا خاطره
وا یه چې تاله په لاس راشي په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

بېره خوشحالي به نهٔ ده بيا رانه ښه بېږي
کله کله غم راکوه تل چې يې بيا د ښه بېږي

زهٔ دې يم لمگے پېښېدے نهٔ شي رانه شمېږي
خدايږو د دنيا نه پهٔ تيارو کښې به بنکارېږي

ماته د آشنا د وعدې ښېرې ځاې اشنا دے
اے وږيه نظره ته پهٔ هيڅ هم نهٔ ښېږي

ستا به د خاطر نه وی پهٔ زړهٔ کښې ځهٔ تېرېږي
دوسره بې پروا يې چې پهٔ مخ کښې مې تېرېږي

○

---

ـــه منتر لرنده او ديوان خاطر دوای وکتابزن کښې ـ تا پيکلے شرح دے ـ رچې خيال سيعم کړی



○

لکه مجنون غوندې گرځم پهٔ بيابان در پسې
وايم پهٔ خلهٔ ليلى ليلى ځيرې گرېوان در پسې

نهٔ شوم خبر نهٔ د وصال لهٔ خوشحالى نه چرې
لکه وحشى گرځمه غمونو د هجران در پسې

نهٔ دې آشنا يم نهٔ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا يې نشته دے پهٔ تا نهٔ گرځم خفگان در پسې

چې ته بيا نهٔ وائې پهٔ ما چې ته شيدا نهٔ يې ته
کهٔ د کمرو مې گذار نهٔ گرځو خپل ځان در پسې

پهٔ حال خبر شه چې نن دې را نهٔ شي خواله زما
چرې پهٔ لاس گرځې خاطره رقيبان در پسې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

له تکړو بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع روڼه
څو به کړمه دا ګریان په توره شپه کښې

زۀ خاطر د ستا د زلفو نه وار نۀ کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړنې زما سترګې
چې یې نۀ شي کړے پوښتنې زما سترګې

زړۀ کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې در ګورم شي نمځنې زما سترګې

مرګ ته ژوندون دے لږ راګوره د نږۀ سره
در نه غواړي جوړ بخښنې زما سترګې

د هرچا دې دیدنونه مبارک شي
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خوږ نۀ شي چې زۀ ژاړم
ړکې ستا د در لمسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نۀ در ګوری
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

خوږ د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې

څهٔ زوخونه پرې د ګرمو اوښکو اوړی
په زړا د غم پېغلې شوې زما سترګې

چې سبا بېګا يې ستا په در کښې نيسم
خوږ د هرې يوې نامې شوې زما سترګې

بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې له ځانه نه په دې شوې زما سترګې

اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړی
د اول نه پېرې بسې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

میاشتنۍ غنچه ستمبر ۱۹۶۰ع

○

د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دی دا پورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا پهٔ پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې داشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خړې کړې سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشو چي ستړګي مي په تا باندي خوږي شولي
چا ته پوره ته نهٔ شوي چي دستا په لور کږي شولي

ګوره داګریوان مي چي وحشت څنګه تار تار کړلو
نهٔ شلیږي دستا د زلفو څرنګه حلقي شولي

ما خو ګټل چي د ستا خُلهٔ ویره آسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره غلي چي راپسي شولي

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
خوږې افسانې مي په نړۍ ګوټي کښي ورستي شولي

ستړګي د خاطر کهٔ ستا په ستړګو تېر وتلي دي
ګوره مه دا بدې کهٔ زما په حقله بنې شولي

تا به کتو غل چرته خاطره د ورک شوي زړهٔ
نهٔ ګوري چي تا ته داشنا ستړګي بس غلي شولي



چي اشاري کړي ایسار به یم ولي
چي پښېمان یې تیار به یم ولي

په یو ساعت کښي مي بیا بیا ژړوی
چي اوس ژړېږم قرار به یم ولي

دریغه چي مړ دي د ستم نه وې نهٔ
چي نهٔ مړ کېږم ازار به یم ولي

نور به دي څهٔ وکړي بانهٔ په خاطر
تول دي پر هر کړمه ویر به یم ولي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکې نه کمېږي څو را ماتې شوي
تا چې خندا وکړه نور لا زیاتې شوي

څوڅلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شوي

څو به ګورې ستا سترګې نما سترګې
لرې دې وي څېر دے هو چې زیاتې شي

تا چې د خاطر سره څه کړي دي
څېر دے اشنا دا چې درته پاتې شوي



ته به په زړه کښې ماله څه راکړې
که راکړې ماله به زړه راکړې

منع به نه شم ستا له دره څنې
په دې دې نه یم که څه نه راکړې
څه لوې اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
ته به لا سو نه ماته ښه راکړې
داسې چل وکړه چې ټېر ورو ورو ډېر م
سبا به ښکلیه یو لمبه راکړه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې ټول غمونه راله ته راکوې
چې پرونډ او ګوره دې کړم نو ماله به شي
اوس څو به هر څه په کاله راکوې

ضد له خاطره سره مه کوه ته
که یو اوان راله په خوله راکړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې يو پهٔ سله نهٔ يې
دا تهٔ زما پهٔ وينا څله نهٔ يې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ يې

دا تهٔ خو چېرته يې چې نهٔ يې نهٔ يې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ يې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوي لا
تهٔ خو هم هغه يې څهٔ بله نهٔ يې



هر څو کهٔ مې د زړهٔ قرار د لوله راځي
پوهېږم ولې نه مې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو يې بس يو بنګلولو له راځي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنيا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې را ته ګورې لکه ته چې را ته ګورې
نن مې له زړګي وُڅې کاږه چې را ته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې له مخه
شي دې پلوشې بنکلې بانه چې را ته ګورې

هغه وخت لږ ویر وک ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږي لکه بنه چې را ته ګورې

ته زما د زړه نه دخپل حُسن تپوس وکړه
زه به درته ووایمه څه چې را ته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مه را ته راګوره
زه درته کتے نه شمه ته چې را ته ګورې

○



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوس را نه هيڅ نۀ شي خطا ده
لۀ مرغۀ مرغۀ وو تمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نۀ چې پۀ تا مئينېدمه

نۀ در نه خفګه هېرېدمه — خپلو وګډونه وشرمېږه
تا چې خندل نۀ ژړېدمه — لۀ ځغو شپونه وشرمېږه

هېره زما تو له دنيا ده
شام و سحر دې يادومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نۀ چې پۀ تا مئينېدمه

غرېبۀ غرنۀ وږمې صفه — چې وي ګډ ونه دي لغړيه راشي
درته پۀ زړه ګښې به يې ساتمه — پرېږده چې مور بنۀ پۀ جنازشي

زما پۀ سترګو ګښې حيا ده
نۀ يې پۀ ځۀ دروا ړومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نۀ چې پۀ تا مئينېدمه



تل به پۀ هر چا دا سې کيږي — پۀ داسې خلقو چې اعتبار کا
لۀ خپله ځانه چې خبر نۀ کا — لۀ ګډ ټګو به يې ګذار کا

د ښکلو مينه بې وفا ده
نۀ به يې ځۀ درته ستايمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نۀ چې پۀ تا مئينېدمه

خاطر خرمۀ وے درکتلي — اوس يې ژړوندون اختيار دي
هغه چې تا درته خندلي — نن يې د نوريکې خندا تيار دے

زما د زړۀ خوږه ژړا ده
ځکه يې نۀ قرار ومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نۀ چې پۀ تا مئينېدمه

ــ دا بيت حکايه د (الله) پۀ ځاى (د) ليکل شوے دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریوان چې یار راکړې ګُل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
مسې مسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

دستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسېدهٔ
بې له سوزه خوصیځوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل اُزاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا زهٔ د بنامار پهٔ شان خوړلے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ بنوباندې ویشتلے یمه
څهٔ مې لهٔ ځلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې ته کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور د صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې نور د صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چې زړهٔ با بُلبلے دے
تا ووې ربېار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خېر دے کهٔ تش تور ېې دې پرون زړګے شپلے
خیال ېې وهٔ سنګار ته پس لهٔ دې به څو راځې

وښايه څنګه را ته　　اوس د زړګي سر را ته
وايه د بنو غشو پهٔ کوم کوم ځاې ويشتلے دے
لاس کښې آئينه ېې وه　　کړې چې کينه ېې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځې

څنګه مرې در شمه　　پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقيب را ته ډک تور پک نيولے دے
يو ځلې د رغلے ومه　　ورپړ دې زغلولے ومه
غلے ومه ديدار ته پس لهٔ دې به څو راځې

ساچې کوم ستم کړے　　اوس ېې پهٔ تا کم کړے
دا د ځوانۍ ولړ پهٔ ما نن سبا را غلے دے
شو خاطر غلام د ستا　　کړې به تل سلام د ستا
پرې ېې ږده دربار ته پس لهٔ دې به څو راځې



نن خو را ته مهٔ وايه چې نا　　تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا　　تر سبا

ووايه اشنا را ته، ته زما تعبير نهٔ يې
وې چې تل پهٔ خيال کښې ېې ته صفه تصوير نهٔ يې
بيله را ته ښکاري دا دُنيا　　تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا　　تر سبا

راکړه ساقي داسې مئ چې شي زما او ستا نشه
هم پرې د چوپتيا نشه هم پرې د دنيا نشه
جام دلبر راکړه پهٔ بيا بيا　　تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا　　تر سبا

نن خو دې را جمع شهٔ پهٔ مئېر کښې کېفونه دک
سترګو پيمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستورنه دی
ګلې دخاطر شه پهٔ رښتيا　　تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا　　تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند یې کړیوان دے څاڅي یې نم

مینه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
ویره له چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ یې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر مالیار دے دستا

ډګل په چم طلب کړم صنم

ے متن او نسخه د دیوان کښې مصرع داسې ده چې چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نه وباسي، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیا نه

زما او ستا دلته څه دی، خو یوه مینه
دا خو هر چرته کیږی، چې راسې وینه
ځان له به جوړ کړو بوستان په بیابانه
راځه چې درومو دواړه له دې دنیانه

خو به په وېره سره، دیدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بیګا سبا کړو
ته شه له زلفو تېره، نه له کړېوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیانه

دا ړک دمینې زړونه، به دواړه یوسو
څه چې څنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
یو دې چار ګل په پونړه بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه له دې دنیانه

دا یې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زه خاطر به شمه، په خاطر جمعه
څکه چې ستا له غمه، ډېر یم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیانه

ے متن کښې د دیوان کښې (د) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سِن نه کال ته وېرې غمونه
لهٔ داسې ژوندنه مرګے ښهٔ دے رادې شینه
الله دې خېر کړی
ستا د ممانو فریادونه
هېر به مې نهٔ شی
لکه د زانې قطارونه
هېر به مې نهٔ شی
پاس پهٔ اسمان کښې جهانونو سوځینه
الله دې خېر کړی
د پښتنو فقیره ژونده
خنګه به تېر شې
تېر خو به شی پهٔ لوږه تنده
خنګه به تېر شې
پهٔ مصیبت به دې څوک سر ته رسوینه
الله دې خېر کړی

نوم د پښتو راځنی هېر شو
څوک مې یادېږی
غم د ضعفی را سره پېر شو
څوک مې یادېږی
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوینه
الله دې خېر کړی
خاطرو صفحه خلق ستا یه
پهٔ خپل کتاب کښې
تل پهٔ بار بار دغسې وایه
پهٔ خپل کتاب کښې
چا چې سر ونه پهٔ وطن ورکړی دینه
الله دې خېر کړی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې توی پۀ سباسبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم پۀ چغو چغو
ستا د بنا بسته سترګو د یاره    فکرونه مانه بنکلیه یاره
څومره لیبې ې پۀ نږګوتی باندې تیرې شولې
پرېږده چې وژاړم پۀ چغو چغو
دخدای د پاره بس ګړا شه    که مرور یې را خلاشه
ستا د را تلو پۀ انتظار یې سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم پۀ چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې    زما د زړۀ ځنې جدا شوې
زما داسترې شوګیرې دې توې هیرې شولې
پرېږده چې وژاړم پۀ چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه    که لېږ را ګورې بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې توې دا نه ګېږې شولې
پرېږده چې وژاړم پۀ چغو چغو

د قافیه د رسته نه ده



واوره صنم زړۀ یې نۀ شولۀ تا نه
ویلې نۀ شم زۀ څۀ لۀ حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه بنۀ دی پۀ ما
زړۀ یې د ستا د پاره واڼۀ چې وی دې پۀ ما
واوره صنم

پۀ کومه لاره بنکلیه چې قدمونه کېږدې
د هر بۀ مښو پۀ زړۀ باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړۀ یې لۀ خپله کوره تښتی چې راشې صنم
خاطر د هرګران دے پۀ ما چې پۀ خنداشې صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



په تش دیدن باندې ئې نه نه مشغولېږه
څو مې خفه کېږه بله ورځ به راشم

له هر چا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تا له چې در شمه نه ځه بهانه به کړمه
په انتظار کښې ئې له ځان سره ژړېږه
څو مې خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نه کړمه
یو ساعت ئې له تا به په نور ځائې تېر نه کړمه
په دې سودائې فوده کېږه راویښېږه
څو مې خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماه تابان شو سره
بل ئې کاروان د ستورو په کهکشان شو سره
د سبائي د خیال خوبونو کښې زنګېږه
څو مې خفه کېږه بله ورځ به راشم

خان ته دا تول دُنیا خاطره ما وکړنه
په کښې ئې مخ او زُلفې بېګا سبا وکړنه
د زړه په مینه ئې په سترګو کښې اوسېږه
څو مې خفه کېږه بله ورځ به راشم

۱ـ که په دیوان او منزل نه کښې (د) دے



ته چې په مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

ستا رضا ده چې داسې ژړېږم
په عالم کښې داسې ګرځېږم
په محبت ئې نا رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

عاشقي وه پېدا له اوره
لږ زما سوی زړه ته وګوره
جوړ په معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلربا یې

خاطر ته ګوره داسې حېران دے
په محبت کښې ستا بندیوان دے
ئې کبرجنه بې ریا یې
ما ته قبوله دلربا یې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما داشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ایرې شه
څې دستړګو د زړګی وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره داشپې
تا نه جدا شپې
جوړ د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه



اوس به وطن د سرو ګلو نو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
څهٔ به د بنګلو نګهتو نو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لا هغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټی سره ځان وبنائی
څوک به ګلی، څوک به ګلان وبنائی
لاله به هم خپرې ګرېوان وبنائی
هم به بلبل شور و فغان وبنائی
اوس به بنا خونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوی
په کښې ځايونه به د ګل جوړوکا
سره سره غنچونه به منګل جوړوی
په آئينو کښې به کاګل جوړوی
دغه جهان به له نازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلي ځلمي به په شملو کښې بندي ګل
اوس خو به جونه په کمڅو کښې بندي ګل
پېر ارمانونه به په زړونو کښې بندي ګل
څوک به د زړه په پرهرونو کښې بندي ګل
دامې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ټپه د چا خندا نه وينم
چې مې ليده هغه رڼا نه وينم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وينم
زه نور ګلونه د دُنيا نه وينم

څوک له جهان له ديدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لړے جهان رڼوی
زړه په ګوګل کښې مې جانان رڼوی
د مينې ګل را نه هجران رڼوی
نه کړي خاطر دغه بوستان رڼوی
د مغ کتاب دې د رانونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څه به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګي مي غواړي شمع ړوبه سوزېدل
راشه یو ځل

ارمان مي دادے که پوره شي
د رنځ دارو مي د اشنا سره لیدل
راشه یو ځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه راځني وتښتېدل
راشه یو ځل

که دیدن کړې تلوار را وکړه
همزولي راغلي خوروي مي تور وېبل
راشه یو ځل

عاشقان ګوره حال یې څه شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه یو ځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یو ځل



نن دې وربل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

د ډوند کاروان مي دے د غم خرهو ګر دو زړګي
واوره فریاد مي د جرس په اوازونو کښې
تلے دې پل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وي لرې که نژدې به وینم
دستا منزل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

خاطره نن دې که لږ سم راته کتلي وے
واړه بناپسته به دې له نږڅني وتلي وے
د کتو چل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړګې نيولې دي ما ستا په رخسار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې
ما چې ليدلے ، ستا په نسو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کوم په دغه لار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې
نه د ر رسيږي نه درته غږ شي
نه را نه خمب شي نه درانه نس شي
داخه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توري، مې په خمبار کښې
يار يې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حيران دے
نکه سپوږمۍ وي، ستوري قطار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې



زما په طمع به کړې تېرې وختونه
زه دې يار نه يم    دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم
ماته را ياد نه دي څوک زه په خوا نه کښې يمه
په ژړګي غم نه لرم په خوشحالۍ کښې يمه
زه لېونے يم چې کوم دومره فکرونه
زه دې يار نه يم    دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم
لېونۍ نه يمه چې د غسې سودا کومه
په تا دې اور بلېږي زه څه پروا کومه ¹
چې بيا مسرې راته نه کا پېغورونه
زه دې يار نه يم    دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم

---

¹ مسرې نه او د لرلو کښې د دې مسرې داسې دي :
لېونۍ نه يم چې دا سودا کړم — په تا دې اور بلېږي زه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان ووینم
چې په ائین کښې ګورم آئین پرېشان ووینم
جانانه ډېر درپسې ګرځمه ارمانونه
زه دې یاره نه یم    دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګوردی له ځمه مئین سوزېږي په ما
لکه د اور په شان سپېځکار ځلیږي زما
خاطره مه راځه بلیږي سره اوردونه
زه دې یاره نه یم    دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

تورې سترګې دې اشارې کا    سرې شونډې دې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته انغی کا    پېښې د ګلو انګي کا
چې مسکی شي بیا سترګې مړې کا    سرې شونډې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بسره ته وي    کړه چې څه دې ننه په زړه وي
چې مې خلق ټول تماشې کا    سرې شونډې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې    دا دې خاطره په تیارو کښې[2]
خپلې اوښکې دې ځان ته ډېرې کا    سرې شونډې لبې کا
زړګیه راته وایه    چې زه کوم طرف ته لاړ شم

[1] منزل ته او دیوان کښې (ن) نشته
[2] منزل ته کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ته سبا به مې ټېرا پهٔ تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

دلبره بندٔ راته معلوم یې
مسې خوندٔ چې ته ماشوم یې
ګله نهیې پهٔ ما مظلوم یې
چې نهٔ پوهیږې لهٔ هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې ستا دمخ پهٔ تماشا وم
دغه وصال وهٔ کهٔ جدا وم
نهٔ یم خبر پهٔ څهٔ سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې پهٔ غمونو کښې دې ګېر کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
کهٔ دې یو ځل پهٔ دیدن سیر کړم



ګټې لهٔ غمه به دې سر شم بیا مزې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شې
بس اوس مې قتل ته تیار شې
اشنا زما څخې وبېزار شې
پرما مې نشته خو پهٔ خپله مې ذېبې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

څلکه قبول دغه بېلتون کړم
څهٔ بې لهٔ تا پهٔ دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

دستا چې نهٔ یمه رڼا یم
راغلے دایم پهٔ خندا یم
مرور نهٔ یمه پخلا یم
خاطره بیا کهٔ مرور شوم نو ګیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه     زما ناترسه یاره

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تېر به د ستا د حسن وار شي يار ه زما
اخر خزان به دې بهار شي يار ه زما

چې نهٔ را درومې اشنا نو وعدې ځاه کوې
هغه پرون دې ځه وې ن چې بيا بله کوې
زما يقين ستا په اقرار شي يار ه زما
اخر خزان به دې بهار شي يار ه زما

ستړګې مې بې له تا نه د چا په لور نهٔ ګوري
د ستا له مخه ځنې مخ نه نور نهٔ ګوري
مړې به ګله پهٔ ديدار شي يار ه زما
اخر خزان به دې بهار شي يار ه زما

زهٔ د بل چا د مينې اشنا ځهٔ طمعه نهٔ کړم
زهٔ به له نوره سره ستا مينه سمه نهٔ کړم
پهٔ ما خاطر دې کهٔ اعتبار شي يار ه زما
اخر خزان به دې بهار شي يار ه زما

له منزلونه او ويرانه کېږي (چې) دے

چې نهٔ را درومې يار ه تهٔ ، منع دې کړه ياد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د يو ساعت مهمان د لې
واوره زما يو خو ګيلې
تېر به شي ستا شباب ، سر دې نهٔ کړو مراد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بښکارهٔ کړم خپل ځيګر
نهٔ کړې پروا مې پرې دلبر
نور مې دی ځوک چې پې واوري دغه فرياد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون ، کړو عمر دې برباد زما

کهٔ بنهٔ دې شي پهٔ سر زما
وي دې پيشکش دلبر زما
واڼې خاطر شه نار لهٔ تا ، نشته باقي جانبداد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نن مخیه یاره تا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم

ستا د کاکُل پهٔ توروتورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو اننګو پورې غنچې څهٔ دی
دی تماشه یې د ژړا چې دې خندا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم

دستا پهٔ مینه کښې د خلقو خندنې خوښ یم
خود خپل عقل نه ودکار شم لیونې خوښ یم
راسره غم د لیونو شی چې صحرا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم

ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
له دې هجره سرې ګل ې د چشمان ګل شی
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورې د سبا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم



د قام ځلمو ستړګې مو پورته کړئ خپل خان وګورئ
چرته کښې ودرېدهٔ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو زموږ همدغه د ختې ودځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نن پهٔ څېرې خپل طاقت پهٔ ټول جهان خورکړئ
پهٔ خپل همت هرچرته نوم د پاکستان خور کړئ

شاته نور مهٔ ګورئ پهٔ وړاندې خپل قدم کېږدئ
پهٔ ورانو لارو باندې مهٔ ځئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغی ځان ته ګلونه کېږدئ
شی چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

موږ له چې مخې له راغلی وار خطا تللی دی
ځلمو زموږ ه ځنې د ېر ځلی پهٔ شا تللی دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېر نهٔ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې مو سر ټيټ نهٔ شي

د مشرانو تل ځلمو نصيحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې ننې ورنهٔ کړئ ځلمو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ په خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خونه تندر د اسمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ په وېرو وينو د امکان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
دا دهګې مهٔ کوه
هسې ډېکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه ده هر يو مسلمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښائسته په شان وو اول
حېران پرېشان وو اول
اول وو ښائسته اوس د رياب ترې بې پايان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

*

ستا د هلال ستورے مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستورے بېکارى نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستورے سر او بصر دے زمونږ

تل ځلېږې په تا چې يې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Download from: aghalibrary.com